AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڼ
۲۰۲۴/۱۰/۲۸

# د یهودو عادلانه جګړې

## (شپېتمه برخه)



(د اسراییلي صهیونستي دولتي ترهګرو بمبار پر لبنان او د په لبنان کې د ښایسته ماشومانو شهادتونه)

### د اسراییلو تبعید او په تبعید کې سزاګانې (۱)

یهودان د فلسطین له خاورې وشړل شول او د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې مېشته شول خو بیا هم اصلاح نه شول، له خپلې ناوړه ګروهې چې ګواکې اسراییل پر نورو قومونو لوړ، د پېغمبرانو زامن او یا دا چې د یهوه خدای غوره او سپېڅلي قوم او داسې نورو پوچو خیالونو څخه وانه وښتل، همداسې په هماغه د جهالت پر خره سپاره وو چې د دا ډول تشو او احمقانه ادعاګانو له امله د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې د ځايي خلکو له سختو غبرګونونو سره مخ شول چې په دغو غبرګونونو کې د اسراییلو تولوژني، شړني او نورې هر ډول سزاګانې شاملې وې. سره له دې چې د اسراییلو دا ډول سزاګانې په حقیقت کې د دوی د خپلو ناوړه کړنو پایلې دي خو یهودي سرچینې دا هر څه د اسراییلو د خدای یهوه لخوا سزاګانې بولي چې د دوی د بې‌سارو ګناهونو له امله په دې نړۍ کې ورکړای شوي دي.

د اسراییلو د لوی تبعید په اړه د موسی په زمانه کې هم وړاندوینه شوې ده، د تورات د ګردان کتاب (د یهودو په ګروهه چې د موسی لخوا لیکل شوی دی، لومړی ځل ویل شوي چې **«یهوه خدای به تاسو د قومونو په منځ کې خواره واره کړي او خلک به ستاسو د حالت په لیدلو سره وډار شي، تاسو به د قومونو په منځ کې په نښه شئ.»** (د ګردان کتاب:۳۷/۲۸)

بل ځای وایي چې کله اسراییل له مصر راوایستل شول نو د دوی د سرکښیو او بت‌پرستیو له امله د دوی خدای یهوه غوښتل چې په هماغه د سینا په دښته کې یې له منځه یوسي خو یهوه خدای وویل چې د خپل نوم د درناوي د ساتلو له امله یې ونه وژل خو له فلسطین څخه د اسراییلو د شړني او په ټوله نړۍ کې د هغوی د خپرولو لوړه یې وکړه، یهوه وویل:**«هغه مهال چې په دښته کې وو، قسم مې وکړ چې دوی به په ټوله نړۍ کې تیت پرک کړم.»** (د حزقیال کتاب:۲۳/۲۰)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ارمیا او حزقیال په کتابونو کې د اسراییلو د شړنې په تړاو د یهوه خدای له قوله ویل شوي:«تاسو چې اطاعت نه کوئ او هغوی [یهودي غلامان] نه آزادوئ، زه به هم د جګړو، قحطۍ او ناروغیو په وسیله تاسو د مرګ په منګولو ته ورکړم **او په ټوله نړۍ کې به مو لالهانده او تبعید کړم.»** (د ارمیا کتاب:۳۴/۱۷)
**«زه به دوی [اسراییل] په ټوله نړۍ کې تیت او پرک کړم... او د قومونو په منځ کې به سپک او بیءزته شي،** تر څو پوه شي چې زه یهوه خدای یم.» (حزقیال:۲۲/۱۵-۱۶)
«یو شمېر د قوم وګړي به له وژلو وژغورم **او هغوی به د نړۍ د قومونو په منځ کې خواره واره کړم،** په هغه ځای کې به ما یاد کړي، پوه به شي چې ما دوی ته سزا ورکړې ده.» (حزقیال:۶/۷-۸)
د اسراییلو خدای یهوه یوازې خپل غوره کړي او نازولي قوم ته له فلسطین څخه د شړلو سزا ورنه کړه، بلکې د تبعید په حالت کې یې هم د تباهۍ توره پسې واستوله او هلته یې هم له وژنو او کړاوونو سره مخ کړل، د اسراییلو خدای یهوه خپل قوم ته ګوتڅنډنه کوي او د هغوی ګناهونه ورته په ګوته کوي وایې چې «... د خپلو [بتپرستو] ګاونډیو قومونو څخه ډېر ناوړه قوم یاست نو زه په خپله ستاسو پر ضد یم او د ټولو قومونو پر وړاندې په ښکاره سزاګانې درکوم، د خپلو ناوړه ګناهونو له کبله چې ترسره کړي مو دي، داسې سزاګانې به درکړم چې نه په تېر کې چا لیدلي او نه به یې وروسته څوک ووینې، **پلرونه به خپل زامن وخوري او زامن به خپل پلرونه وخوري، هغوی چې ژوندي پاتې شي په ټوله نړۍ کې به یې خواره واره کړم.** په دې بنسټ چې تاسو په خپلو بتانو او ګناهونو باندې زما کور (معبد) ناولی کړی دی، په خپل ژوند لوړه کوم چې زه به هم تاسو له منځه یوسم او هېڅ رحم به درباندې ونه کړم، ستاسو یو په دریېمه برخه به د قحطۍ او ناروغیو له امله له منځه ولاړ شي، یو په دریېمه برخه به د دښمن لخوا ووژل شئ **او پاتې یو په دریېمه برخه به هم په ټوله نړۍ کې خواره واره کړم او د دښمن توره به هم په هغه ځای کې درپسې واستوم... زه به تاسو په نړۍ کې د خلکو د ملنډو او پند سبب وګرځوم.»**(حزقیال:۵/۷تر۱۵پورې)
**«هغوی به په ټوله نړۍ کې لالهاند کړم، په هر هېواد کې یې چې خواره کړم، د خلکو لخوا به ملنډې پرې ووهل شي، ملامت او د کرکې وړ به وګرځي او د وېرې سبب به شي.»** (ارمیا:۲۹/۱۸)
«دوی به په هغو قومونو کې خواره واره کړم چې نه دوی او نه د دوی نیکونو پېژندل، تر دې چې **په هغه ځای کې به هم په دوی پسې د تباهۍ توره واستوم چې په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي.»** (ارمیا:۹/۱۶)

په هغو هېوادونو کې چې شړل شوي اسراییل په کې مېشت شوي وو، له هغو وژنو او ځورونو سره مخ شول چې د اسراییلو قومي خدای یهوه ګوتڅنډنه ورته کړې وه.
له هغه مهاله چې اسراییل له فلسطین څخه شړل شوي، د دوی وژنې او ځورونې په پراخه کچه ترسره شوې چې په تړاو یې یو ځانګړي او پنډ کتاب لیکلو ته اړتیا ده خو موږ یې یوازې په لنډه توګه مالومات وړاندې کوو:
سره له دې چې له فلسطین څخه د یهودو لویه شړنه (تبعید) په ۷۰ ز، کال کې ترسره شوه خو وړاندې له هغې هم چې یو شمېر یهودان مصر ته شړل شوي یا تښتیدلي وو، په ۳۸ ز، کال کې د مصر د اسکندریې په ښار کې چې د روم د واکمنۍ لاندې ؤ، د یهودانو ټولوژنې ترسره شوې. دا پېښه د یهودو د ناوړه دیني ګروهو له امله رامنځ ته شوه. په اسکندریه کې د یوناني اوسېدونکو او یهودانو تر منځ اوږدمهالې کړکېچ او شخړې روانې وې **چې په ۳۸ ز، کال کې د یهودو په لویه ټولوژنه بدلې شوې.**
په مصر کې د روم امپراتورۍ والي (فلاکوس) د یهودانو کنیسه‌ګانې ورانې کړې، ویې ویل چې یهودان پردي خلک دي، **خلکو ته یې اجازه ورکړه چې هر څوک کولی شي یهودان ووژني.** هغه وو چې یهودان د اسکندریې ښار له څلورو سیمو وشړل شول او ټول یې په یو کوچني ځای کې راټول کړل، خلکو د دوی کورونه لوټ او **په زرګونو یهودان یې په ډول، ډول عذابونو سره شکنجه او ووژل.** [1]

## په اروپايي هېوادونو کې د یهودانو وژنې او شړنې

### صلیبي جګړې او د یهودانو ځپل[2]
له ۷۰یم، ز، کال وروسته په تبعید کې یهودان د نړۍ په هره سیمه (په ځانګړې توګه په اروپا کې) تر ټولو له ډېرو وژنو او کړاوونو سره مخ شول. د منځنیو پېړیو پر مهال په اروپا کې د یهودانو پر وړاندې سختې کرکې شتون درلود، چې د لومړۍ صلیبي جګړې (۱۰۹۵-۱۰۹۹، ز) پر مهال، صلیبي پوځونو په اروپا کې پر یهودانو بریدونه وکړل او ډېر یهودان یې ووژل چې په جرمني او فرانسه کې یهودي ټولنې په بشپړه توګه له منځه ولاړې.

1: https://fa.wikipedia.org/wik
2: لاندې مالومات تر ډېره له انټرنټي سرچینو اخیستل شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په غیر و لولئ

سره له دې چې عیسویت یو سوله‌غوښتونکی دین ؤ خو په روم کې د عیسویانو لوی دیني مشر (پاپ) دوهم اوربانوس) عیسویان وهڅول چې د مسلمانانو پر وړاندې وجګړیږي ترڅو اورشلیم د مسلمانانو له ولکې وباسي، د مسلمانانو پر خلاف د پاپ د سختو تبلیغاتو او هڅونو له امله اروپایانو یو بې نظمه او خپلسرى صلیبي[3] لښکر جوړ کړ.
وایي چې د صلیبیانو یوه بې نظمه ډله چې له جرمني یې حرکت کړی ؤ، لومړی یې پر جرمني میشتو یهودانو، د بوهم پر سیمه تیری وکړ، د خلکو او کشیشانو غوښتنو ته یې ونه کتل او د وینې تویول یې په دین کې پټ کړل چې لږه موده وروسته په داړونکو ځناورو بدل شول.
په دې اړه پنډت جواهرلال نهرو وایي چې «د دوی په منځ کې ښه خلک هم وو چې د خپلې لیواتیا په خاطر یې جګړه کوله خو ډېر داسې کسان هم وو چې هېڅکله یې معنوي فکر نه درلود او یوازې د لوټ تالان لپاره جګړېدل، صلیبی عسکر تر ټولو فاسد مذهبي کسان وو او هر ډول جنایت ته چمتو وو، په حقیقت کې دغه صلیبیان چې د یوه عالي [؟] هدف لپاره خوځېدلي وو، ډېرې ناوړه کړنې یې تر سره کړې، دوی چې لا د فلسطین پولو ته نه وو رسیدلي د لارې په اوږدو کې په چور او چپاول او نورو ناروا کړنو لاس پورې کړ او **د لارې په اوږدو کې یې یهودان په ټولیزه توګه ووژل**، تر دې چې ځینو د دوی خپل مسیحي ورونه او هم مذهبه هم په ډلهییزه توګه ووژل، دا علت ؤ چې د مسیحي هیوادونو بزګرانو چې د صلیبیانو د لارې پر سر پراته وو، د دوی پر وړاندې یې پاڅونونه وکړل او پر دوی یې بریدونه ترسره کړل د دوی ډېر کسان یې وژل او له خپلو سیمو یې وشړل.»[4]
یو کال وړاندې په اورشلیم کې د ترکانو واکمني وه چې د فاطمیانو لخوا له نوموړي ښاره ایستل شوي وو چې له امله یې د فاطمیانو ځواک هم کمزوری شوی ؤ، نو فاطمیانو صلیبیانو ته د سولې وړاندیز وکړ خو د صلیبیانو لخوا ونه منل شو او وروسته له یو څه مقاومت څخه اورشلیم د صلیبي ځواکونو لخوا ونیول شو. (۱۰۹۹ز، کال د جون ۷مه) صلیبي ځواکونو سربېره د مسلمانانو پر ټولوژنو، **هغه یهودان چې ژوندي پاتې وو خپلو کنیساوو ته راټول کړل او په ژوندوني یې په اور کې وسوځول**. وروسته له دې په اورشلیم کې صلیبیان د عیسویانو د قیامت کلیسا ته راغونډ شول او د خپلو وحشي کړنو له امله یې یو بل په غېږو کې ونیول، مبارکي یې ورکړې او د خدای ستاینه یې وکړه![5]
د صلیبي جګړو پر مهال ګڼ شمېر یهودان د خپلې ګروهې د پرېښودو او عیسویت منلو ته اړ شول. **د صلیبي پوځونو له خوا یهودانو ته ویل شوي وو چې یا به د عیسویت دین مني یا به وژل کیږي.** سره له دې چې ډېریو یهودانو د خپلې ګروهې ساتنه کوله خو یو شمېر یې په زوره عیسویان کړل، هغه یهودانو چې له خپل دین څخه نه تېرېدل ووژل شول.

## فرانسه

د صلیبي جګړو په منځنیو کلونو کې یو تن عیسوي کشیش د فرانسې اوم لویي (پاچا) ته ولیکل:**«څه اړتیا ده چې موږ د مسیحیت د دښمنانو د له منځه وړلو لپاره لرې هیوادونو ته ولاړ شو، په داسې حال کې چې یهودان زموږ په منځ کې په آرامی سره اوسیږي.»**
د فرانسې د پاریس په ښار کې په ۱۱۹۰ز، کال کې **درې زره یهودي وګړي ووژل شول**، وایي چې دا پېښه د هغو تورونو له امله رامنځ ته شوه چې یهودانو د مسیحیانو سپیڅلي خواړه ناولي کړي وو. دا شان د ۱۲۱۸ز، کال په اوږدو کې، د فرانسې په مختلفو سیمو کې د یهودانو جدي ښړنه او پراخې وژنې پیل شوې، ډېر یهودان اړ شول چې خپل ځانونه وپیري.

مسیحي صلیبیانو په کال ۱۲۳۶ز، کې د فرانسې په (آنژو و پواتو) کې، په ځانګړي توګه پر (بوردو او آنګولم) باندې چې یهودان په کې اوسېدل یرغل وکړ، صلیبیانو ټولو یهودانو ته وویل چې خپل دین پرېږدي او مسیحي دین ومني او د عیسویانو د تعمید غسل وکړي. **دا چې یهودانو له دا ډول حکم سرغړونه وکړه، نو صلیبانو د خپلو اسونو تر پښو لاندې درې زره یهودان ووژل.**

## انګلستان

په ۱۱۸۹ز، کال کې د انګلستان پاچا لومړي ریچارډ د پاچاهۍ تاج د پرسرکولو پر مهال په لندن کې پر یهودانو بریدونه وشول او **په ۱۱۹۰ز، کال کې د (یورک) کلا په پېښه کې ډېر یهودان ووژل شول** چې وروسته د ۱۲۹۰ز، کال د جولای

---

[3]: صلیبي لښکر، صلیبي جګړې یې څکه بللې چې د دغو جګړهمارو پر جنډو (بیرغونو) ډالونو، اسونو، سینو، ټټرو او کالیو باندې د پاپ امر، د صلیب انځورونه کېنل شوی وو.
[4] : جواهر لال نهرو: نګاهی به تاریخ جهان. ۳۸۸مخ.
[5]: ویل دورانټ: تاریخ تمدن، ۲۲۶۵مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په ۱۸مه نیټه د انګلستان پاچا لومړي اډوارډ لخوا یو فرمان ورکړای شو چې ټول یهودان دې د انګلستان خاوره پرېږدي او یهودانو ته د نوامبر تر لومړۍ نېټې پورې وخت ورکړای شوی چې له هېواده ووځي. **هغه وو چې شاوخوا درې زره یهودان له انګلستانه وشړل شول، د یهودانو شتمنی ضبط شوی.**

## جرمنی

په کال ۱۲۴۳ز، کې د جرمني په بلیتس ښار چې برلین ته څېرمه پروت دی، **د نوموړي ښار نږدې ټول یهودان په دې تور چې د عیسویانو سپیڅلي خواړه یې ناولي کړي دي، په ژوندوني وسوځول شول.**
همدارنګه په ۱۲۸۳ز، کال کې د جرمني د (ماینتس) ښار پر یهودانو تور پورې شو چې مسیحي ماشومان یې وژلي دي، سره له دې چې د هغې سیمې دیني مشر لوی اسقف کوښښ وکړ چې پېښه دروغ وګڼي **خو بیا هم ډېر شمېر یهودان چې شمېر یې نږدې لسو زرو کسانو ته رسیده ووژل شول او کورونه یې لوټ شول.**
دا شان په ۱۲۸۵ز، کال کې د جرمني په مونیخ ښار کې ورته تورونه پر یهودانو پورې شول **چې یوسل اتیا یهودانو یوې کنیسې ته پنا یوړه خو مسیحانو کنیسې ته اور ورته کړ او ټول هغه کسان وسوځول شول. یو کال وروسته د (اوبروزل) په ښار کې هم څلوېښت تنه یهودان ووژل شول.** دغه پېښې له هغو تورونو سره تړلي وې چې یهودان د مسیحیانو پر خلاف خونړي بریدونه او نور جرمونه ترسره کوي، د (مونیخ) ښار دغه بریدونه او ټولوژنې د یهودانو د کورونو او شتمنیو پر غصب کولو پای ته ورسیدې، **د مونیخ ښار ډېر یهودي وګړي ووژل شول** او د نوموړي ښار یهودي ټولنه سخته زیانمنه شوه.
په ۱۲۹۸ز، کال کې د جرمني د (روتینګن) په ښار کې د یهودانو په خلاف وژونکي بریدونه وشول، یهودان په دې تورن وو چې د عیسویانو سپیڅلي خواړه ناولي کوي او خونړي بریدونه کوي چې له امله یې د روتینګن ښار واکمنانو د یهودانو پر وړاندې سختې کړنې ترسره کړې چې د یهودانو په ټولوژنو پای ته ورسیدلې. **د ټولوژنو په ترځ کې د روتینګن ښار یهودي کورونه وسوځول شول او د هغوی شتمنی ولوټل شوې، ډېر شمېر یهودي وګړي ووژل شول او د ښار یهودي ټولنه په بشپړ ډول له منځه ولاړه.**
په څوارلسمه زېږدیزه پېړۍ کې د جرمنی د (راین) په سیمه کې یهودي ټولنې د مسیحیانو تر بریدنو لاندې راغلې، په ۱۴۶۳ز، کال کې آلبرشت د براندنبورګ حاکم اعلان وکړ چې د جرمني د هر ایالت واکمن کولی شي په خپله سیمه کې **ټول یهودان په اور وسوځوي، یا دا چې که ښځه ورته کېږي نو دریمه برخه شتمني یې باید ضبط شي.**[6]

## اسپانیا

هغه مهال چې د اسپانیا هېواد، لویه برخه د مسلمانانو په لاس کې وه، یهودان په آرامۍ او خوشالۍ کې اوسیدل خو کله چې عربان له اسپانیې وایستل شول نو یهودان په ډېر ناوړه حالت کې پاتې شول، په اسپانیا کې د مسیحي کلیسا غوڅه واکمنۍ او له یهودانو سره د دوی د پخوانیو دښمنیو له امله، یهودان له ډېرو سختیو سره مخ شول، په ځانګړي توګه د صلیبي جګړو پر مهال چې مسیحیانو یهودان (د دوی په ګروهه) د خدای او د خدای له زوی[7] سره په خیانت او غدارۍ تورن او د عیسی د قاتلانو په تور تر یرغلونو لاندې راوستل شول.
د اسپانیا د ګروهو د څارنې دله (انګیزیسیون) د اسپانیا یهودان له سختو تېریو سره مخ کړل، د یهودانو دیني شعایر لکه: **ختنه کول، د شنبې ورځې رخصتي، د اخترونو د ورځو لمانځل او داسې نور د دوی لپاره ګناه، جرم او الحاد بلل کیدل،** تر دې چې هغه یهودان چې له یهودیت څخه عیسویت ته اوښتي وو له بدګمانۍ سره مخ او ځورول کیدل.
په ۱۳۹۱ز، کال کې د اسپانیا په هېواد کې د یهودانو وژنې او ځورونې په پراخه کچه پیل شوې، **یوازې په (سویلا) کې دېرش زره یهودان قرباني شول چې ډېر شمېر یهودان د مرګ له وېرې عیسویت ته واوښتل او د عیسویانو د تعمید غسلونه وکړل** خو هغوی چې عیسویان شوي هم وو، له ځورونو او کړونو په امن کې پاتې نه شول.
په ۱۴۲۰ز، کال د مارچ په دریمه نیټه د مسیحي کلیسا په ملاتړ د اسپانیا د (سبویل) ښار یهودي میشته سیمه تر ټولو سوځېدلې سیمه وه. او «په ۱۳۹۲ز، کال کې عمومي فرمان صادر شو په فرمان کې ویل شوي وو **چې ټول یهودان باید مسیحي شي، یا دې مرګ ته تیار شي او یا دې د تل لپاره د اسپانیا خاوره پرېږدي. پنځوس زره یهودان په زوره**

---

6: مهندس جلال‌الدین اشتباني: تحقیقی در دین یهود. ۴۷۱مخ.
7: د خدای وژل څرنګه امکان لري؟ ښکاره ده، هغه چې وژل کیږي طبعاً خدای نه دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

**مسیحت ته اړ شول او په سلګونو زره یهودان له اسپانیا ووتل، کورونه یې لوټ شول، ډېرې ښځې او لونه یې د مینځو په توګه وپلورل شوی.»**[8]

د اسپانیا سپيځلي محکمي (انيکويزېتوريه) لخوا د هغه هېواد په ډېرو سيمو کې د يهودانو پر وړاندي جګړه او وژني پيل شوي، نوموړي مذهبي محکمه د اسپانيا د عيسويانو د کاتوليک پاچا (فردينادنو) او ملکي (ايزابيل) لخوا جوړه شوي وه. (۱۴۷۸ز، کال)

په ۱۴۹۲ز، کال کې د هسپانيي پاچا فردیناند او ملکي ايزابيل په فرمان يهودانو ته د هسپانيي پرېښودو امر وشو. هغوی چې په ځای پاتي شول، **په زوره د عيسويت دين منلو ته اړ شول** او که نه د ديني محکمي انيکويزېتوريه لخوا ځورول او وژل کېدل.

په کال ۱۴۹۴ز، د مارچ په ۳۰مه نېټه د اسپانيا د واکمن لخوا فرمان ورکړای شو چې هغه يهودان چې له خپل دين څخه مسيحيت ته نه اوړي، هغه که په هر ډول شرايطو کې وي، د څلورو مياشتو په موده کې دې د اسپانيا د قشتالي (قشتاله) سيمي ووځي او هېڅکله بايد بيا ورته رانه شي، څوک چې له دې امره سرکښي وکړي وبه وژل شي، د قشتالي غيريهودي کسان وروسته له نوموړي مودي څخه نه شي کولی له يهودانو سره مرسته او امنځايونه ورکړي. **ډېرو يهودانو چې نه يې غوښتل هېواد او خپله شتمني له لاسه ورکړي عيسويان شول او ډېر نور يهودان د سپيځلي کليسا په زندانونو کې مړه يا وسوځول شول، ډېر شمېر يهودان نورو هېوادونو ته ولاړل** خو هغه يهودان چې له خپل دين څخه عيسويت ته اوښتي وو، بيا هم ځورول کېدل ځکه چې په ډېري کوچنی بدګومانی سره زندان ته اچول کېدل.

د اروپا په نورو هېوادونو کې، وړاندې د جرمني د نازيانو له واکمنی څخه هم د يهودانو ځوروني او وژني ترسره شوي دي چې له هغوی څخه په اوکراين، روسيه، سپينه روسيه، ايتاليا او نور اروپايي هېوادونه د يادولو دي. «د اروپا په ډېرو سيمو کې يهودان اړ وو خپل ځانونه له نورو وګړو پر وړاندې په توپير کې ځرګند کړي، دريم پاپ (اينوسنت) فرمان ورکړ چې **تول يهودان بايد د هغوی د پېژندلو په موخه ځانګړي کالي واغوندي** چې له يو ډول تحقير سره مخ شي، دا ډول ځوروني او سپکاوي يوازې په اروپا کې نه ترسره کېدل، بلکې د نړۍ په ټولو يهودي مېشتو سيمو کې روان وو.»[9]



(پر لبنان د دوه پښيو ځناورو وحشيان بمبار او د لبناني ماشومانو وېرووونکی حالت.)

نېټه:۱۴۰۳/۸/۷ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اخړ نوري ليکنې په دې لينک کې ولولی.

[8]: مهندس جلال‌الدين اشتباني: تحقيقی در دين يهود. ۴۷۱مخ.
[9]: مهندس جلال‌الدين اشتباني: تحقيقی در دين يهود. ۴۷۲مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ